پوهنمل حاجي محمد نوزادي

# دبن پریکړي اودلوي څارنوال بیوسي

ددي خبري سره سره چي په افغانستان کښي دبن دکنفراس نژدي ټولو پریکړو یوپه بل پسي دټاکلي مهال ویش سره سم دعمل جامي په تن کړي ، خولاتراوسه هم دریو لویو بلاګانو لکه فساد ، بي امني اوبیکاري چي دوي پخپله هم یودبل زیږنده دي ،د اولس په مرئ ئي داري ښخي کړي او ویني ئي زبیښي . دناخوالو په چاپیریال کي نوموړي بلاګاني ډیر ژر بلاربي او ورسره جوخت ئي دنشه اي توکو دقاچاق شبکي او وسلوالي مافیاوي راوزیږولي . دغه اژدهاربیاپه خپل وارداختاپوت منګولي ترلاسه او ددولت په درو واړو څانګو کښي ئي ریښي دومره وغزلولي چي دمقننه ارګان په لاندي کولو سره ئي اجرائیه ا رګان په ډار کي واچاوه او پدي توګه ئي قضائیه ارګان بي تاثیره کړ.
څارنوالي چي اصلي دنده ئي دقانون پرانفاذ او صحیح تطبیق باندي څارنه ده ، که څه هم داجرائي اوقضائي ارګانو ترمنځ یو ځانګړی موقف لري خو حقوق پوهان ئي اوس داجرائیه قوي یوه برخه ګڼي . داجرائیه قوي همدغه برخه ده چي دوظیفوي صادقانه هلوځلوبریالیتوب ئي دقانون واکني رامنځته کوي اوله کبله ئي داختاپوت زهرلرونکي منګولي ددولت له ګریوانه لنډیږي .
هغوکسانو چي پخپله ئي دشر اوفسادتخم پاشلي اوپرپولو ئي اوس اوبه لګوي ، کله چي ئي داولسمشرۍ په ټولټاکنو کښي دښاغلي کرزي په وړاندي ماته وخوړل ، نوئي دخپل انارشیزحاکمیت په وخت کي د زیږولي او روزل شوي بچي یعني اداري فساد دموجودیت پره دکرزي پردولت واړول او ددي ناوړتیا دبرجسته ښودلو په موخه ئي په خپلو رسنیو کښي دولت ته دپیغورونو اوطعنو لړۍ پیل کړي . فسادئي دټولوناخوالو مور وباله ( چي په واقعیت کي همداسي هم ده ) او دولت ئي دهغه دله منځه وړلو په چارو کي کمزوری وښود چي ګویا پر ضد ئي جدي ګامونه اخلي او ددي کاردپاره دثابتو هوڅلو سره یو جدي شخص په کار نه ګماري . دولت هم خپله دغه بیوسي په هیڅ ډول پټولای نشوه اودغه نیمګړتیا به ئي تل هم داولس او هم دخپلو سیاسي حریفانوپه وړاندي دپېزي پیزوان وو . هغه وو چي په پاي کښي دښاغلي عبدالجبار ثابت په څیره کښي یو په رښتني توګه باثباته ، مسلکي او دهوډمنو متوڅښتن وموندل شوچي پخپل ټول توان سره ئي ددغه ښامار و وژلو ته توره ترملا کړه . کله چي دنوموړي ښامار زیږونکو اوروزونکو خپل بچی دمرګ تر خطر لاندي ولید نوپدي پوه شوه چي دهغه مرګ دوي دڅو تاوانونوسره مخامخ کوي:

۱ ـ داختاپوت منګولي ئي ددولت له ګریوانه خېژي.
۲ ـ وسلواله مافیا ئي کمزوري کیږي.
۳ ـ داکاربیا دامنیت ټینګولوته لاره خلاصوی.
۴ ـ او په پایله کښي ئي ددوي دسیاسي حریف اولسمشر کرزي مخ دده دانتخا ب کوونکو په وړاندي سوروالی مومي.

له همدغه کبله ووچي نوموړو کسانو په دووکارونو لاس پوري کړ :
۱ ـ دلوي څارنوال ښاغلي عبدالجبار ثابت دشخصت دټیټولوا و تخریب دپاره ئي په لویولګښتونوسره ناري سوري پورته ، پدي موخه ئي خپلي ټولي میډیایي رسني پکارواچولي اودده پرضد ئي ناروا پروپاګندي پیل کړي.
۲ ـ دقانون دتطبیق او انفاذ ارګانونه چي لا پخوائي په خپلو کسانو ډک کړیوه ، دېنځم ستون په توګه ئي و دي ته وګمارل تر څو په سبوتاژ لاس پوري ، دلوي څارنوال دقانوني حکمونو څخه سر وغړوي او پدي ډول دهغه دهغو هلوځلو مخه ونیسي چي په نه کولو سره ئي ترېرونه پوري دولت تورناوه . دوي غواړي پدي کارسره لاندي هدفونه ترلاسه کړي:

الف ـ دوي غواړي په دولت کي دناخوالو په ساتلو سره اولس ناراضه وساتي .
ب ـ داولس دناراضي توب پربنسټ دناامنیو وپراخولوته لمن ووهي.
ج ـ پدي کارسره غواړي دکرزيٍ دولت ناکامه وښئي.
د ـ دوي هیله لري چي پدي توګه خلګ وهڅوي ترڅو وپخواني زاړه کفن کښ ته دعاوي وکړي.
ه ـ دلوړوموخودلاسته راوړو له امله به دلیوه دزړه ارمان چي باد او باران دي ترسر کړي .

په خوابښنئ سره باید یاده شي چي دوي تر لویه بریده هم پدي کار کښي دټاکلو بریاوو څخه بي برخي ندي ، باثباته ثابت ئي هم خپلي بیوسۍ ته په اعتراف کولومجبوراوپه کره غاړه ونړیوالوته ئي دمرستي غوښتني پخاط لاس اوږد کړ .
دناامنیوجوړونکواودسبوتاژ سناریو لیکونکو چي دا واروېده نو ئي ترټلو لاندي اوربل اوخبره ئي بل پلو واړول تر څویوااربیا دبلي خوانه دهیوادوالو احساسات راوپاروي چي ګویا دایوه داخلي افغاني مسئله ده اوخارجیان دلته ومداخلي ته رابلل دافغاني اخلاقي دود نه لیري یوغیرقانوني عمل دي . اما کله چي دغو کسانو دامریکا ( ب 52) بم

غورځونكي الوتكي رابللي ترڅو دطالبانو سنګرونه دړي وي اوورپسي هره ورځ په لسګونو بيګناه كسان ددغو الوتكو په بمونوسره په وينو كي لامبي ، داكار بيا دافغاني دود اوټولو قوانينو سره برابراوپرځاي عمل بولې . څوكله چي وتحقيق ته ديوه مجرم په راحاضر ولو كي دنومو ړوخارجي قوتونو نه مرسته وغوښتل شي بيانوخبره پربلي خوا كش
كړي . ددي دپاره چي پوه شو ايا په افغانستان كښي ميشت خارجي قوتونه دفساد په له منځه وړلو كښي دمرستې كولو حق لري كنه ، ضرورده دي موضوع ته له درو اړخونو څخه وګورو :

١ ـ دموضوع حقوقي او قانونې اړخ.

ددي خبري سره سره چي ځينې ځيرونكې ددغوخارجي قواوو شتون په افغانستان كښي قانونې نه بولي ، خوبياهم اكثريت ځيرونكي پدي عقيده دي چي دملګرو ملتونو دامنيت شورا دپريكړي له مخي د دوي حضور خپل لازم مشروعيت ترلاسه كړيدې . دنوموړو قوتونو اساسي دندي دبن دكنفرانس نه ريښي اخلې چي په افغانستان كښي دقانون حاكميت ټينګښت ددغو دندو ستره برخه ګڼل كيږي . ترڅوچي اداري فساد له منځه نه وي تللې ، په دولتې چارو كښي دسبوتاژ مخنيوې سخت كاردي او دسبوتاژ په شتوالې كښي بيادقانون حاكميت محال بريښي . څكه نو دحقوق پوهانو په نظر دوي داقانوني حق لري هغه موانع چي دقانون دحاكميت په لاره كښي خنډ ( اداري فساد ) ګرځيدلې دې ، له منځه يوسي اوداكار بيا ددي مستلزم دي ترڅو دوي دلوي څارنوال ملاوتړي او ومحاكمي ته دمفسدو جنايتكارانو په حاضرولو كښي مرسته ورسره وكړي .

٢ ـ دموضوع فزيكي اوعملې اړخ.

دقضايي دعووڅيړل څوپړاوونه لري چي ترټولو لومړئ ئي دمتهم يامدعي عليه حاضرول دي چي داكار دامنيتي اركانوپه ځانګړي توګه دپوليسو دنده ده . بل پړاوئي داتهام په اړه پوښتني او تحقيق دي چي داكاربيا پخپل وار دڅارنوالې دنده ګڼل كيږي . اخيرنۍ پړاو قضايي پريكړه ده او داكار دقانون له مخې دمحكمي او قاضيانو پرغاړه د ي . دايساف قوتونه يوازي په لومړي پړاويعني دمتهم په حاضرولو كي مرسته كولاې سي او بس.
دلوي څارنوال شكايت دادي چي فساد د مافياوي ډلولخوا په پلانيزه ډول رهبري كيږي ، دغه په فساد كي شكيل لوي مجرمين وسله والې مليشي لري اوپوليسي اركانونه په دوو دليلونو دهغوي په حاضرولو كښي پاته راغلې دي . اول داچي په نورو امنيتي چارو كښي دبوختيااوكافي امكاناتو دنه لرلو په بهانه ودي كارته ځانونه وزګار نه حسوي .
دوهمه اوترټولو مهمه خبره داده چي دپوليسو ډيره لويه برخه په لوړه كچه ديادوشوو مجرمينو سره پخواني مليشه اي تړاوونه او خواخوږي لري څكه نودهغوي په مقابل كښي جديت نه ښئي ، په يوه او بله پلمه هغوي ته دتمردچانس برابروي . كه چيري دايساف قوتونه ددغو وسله والومليشو په بي وسلي كولو كي خپله دنده ترسره كړي ، هغوي بيادا توان دلاسه وركوي چي وتحقيق ته دحاضريدو څخه سرغړونه وكړي .

٣ ـ دموضوع اخلاقي اوعاطفي اړخ.

دتحقيق او پوښتني پخاطردخارجي قوتونوپه مرسته دلويو مجرمينو دحاضرولو په كار كښي ترټولو مهمه خبره همدغه دافغاني دودونو اواخلاقي توكو درعايت كولو موضوع ده . زه دا منم چي هيڅ يو خارجي شخص ته بايد په خپل منځي افغاني چارو كښي دمداخلي كولو فرصت ورنكړل شي . خو راشي يوه ترخه واقعيت ته هم په پرانيستوسترګو وګورو : له بده مرغه همدا اوس اوس هره ورځ زموږ افغاني مظلومي كورنې په ډير بد شكل دخارجي قوتونو دمنفي مداخلې سره لاس او ګريوان دي لكه پخپل سر كورونوته ننوتل ، دنارينه وو اوښځو تلاشې ،ډله ايزه وژنه او بندي كول ، دبيګناه وګړو بمباري او داسي نور ډير دافغاني دستور نه ليري كارونه . ددي ټولو ناخوالو مستقيم مسئوليت دتنظيمي انارشيزم پرغاړه دي چي دمنځنيو پيړيو فوندامنتاليزم ته ئي لاره پرانيستل ، په نتيجه كي د ٢٠٠١ كال دسپتمبرد١١ نيتي پيښي منځ ته راغلې او خارجي لښكرو زموږ دهيواد په هر ګوټ كښي خيمي ووهلي .
پداسي حال كي چي دافغاني اخلاقي معيارونوپه خلاف دخارجيانو داټولې ناروا او نادودي دمنفي مداخلو سره زغملاي شو ، بيابه نوڅه ټكه راباندي ولويږي چي دښيګڼو پخاطر ئي دقانون دحاكميت دټنګښت دپاره يوي بلي مرستندويه مداخلي ته هم غاړه كښيږدو . ددي ټولو خبرو دپايلې په توګه بايد داومنو چي دنوموړو كسانو دپاره دافغاني ارزښتو نو درناوی مطرح ندي بلكه دخپلو ناروا ګټو دساتلو په موخه دخلګو په سترګو كي خاوري پاشل مطرح دي.

پای